www.nanafghan.com

# په اسلام کې د حجاب فلسفه

(دیو تحلیل په لړکې)

لیکونکی :ضیاً احمد فاضلي دهرات د شرعیاتو پوهنځي استاذ

ژباړه : ډاکټر شبیراحمد عثماني

# دکتاب پیژندنه

دکتاب نوم: په اسلام کي دحجاب فلسفه( دیوتحلیل په لړکي)
خپروونکی: دافغانستان داصلاح او ټولنیز پرمختګ ټولنه

## د کتاب ځیني سرلیکونه:

راهبانه اوکلیسایي نظر
بې مهاره اوازادنظر
متوسط یا اسلامي نظر
ښځي ته داسلام اخلاقي سپارښتني
نارینه وو ته داسلام اخلاقي سپارښتني

## بسم الله الرحمن الرحیم

جنسي غریزه دانسان په زندګي کي یوله هغو حیاتي اومهو مسایلو څني ده چي دهرتمدن اوحتی دهرانسان فکر یي ځان ته راګرځولي ده ،دامسله شاید یواځني مسله وي چي په خپله تاریخچه کي یي مختلف پراونه تیرکړي اوتجربه کړي وي .
په اوس وخت کي دي مسلي ته په دري مختلفو نظرونو کتل کیږي .

### ۱:راهبانه اوکلیسایي نظر:

ددي برخوردطرفداران جنسي غرایزپه مطلق ډول لکه بندي دبند په حالت کي ساتي اوهر ډول شهواني تمایل ګناه اوداالله دقهر موجب بولي ،همدارنګه ددي نظرطرفداران دجنسي غرایزودرفع کولو لپاره هیڅ داسي لاره نه په ګوته کوي چي دهغي لاري نه دانسان جنسي غرایزاشباع اوماړه شي.
داکلیسایي برخورد که دبشریت په ټولنو کي عملي شوي واي نو دبشردنسل دانقراض ( له منځه تلو) سبب به شوي وو،داچي یوه داسي فاجعه اوناورین به یي رامنځ ته کړي ووپه همدي لحاظ دیو شمیر م حدودو افرادو نه پرته نوردهیڅ مکتب اومسلک له خوا دمنلووړنه ده ،نه یواځي داچي دمنلووړنه ده بلکي دانظر یوغیرفطري ،غیرمعقول اوغیرانساني نظرپه ګوته شوي دي اوډیره موده وکیږي چي دکلیسا په ارشیف کي همداسي خښ پاتي دي.

### ۲:بي مهاره اوازادنظر:

ددي نظرپه اساس چي دپورتني نظرپه ضد کي واقع دي هیڅ نوع اخلاقي اوقانوني مرزاوسرحد دجنسي غریزي داشباع لپاره نه پیژني اولکه بي مهاره اوښ له هرڅه پسي خوله اچوي .
ددي نظرپه اساس چي انسان دیومادي اوغیرمسؤل څیزپه څیر پیژني هرڅوك کولای شي دخپلي جنسي غریزي داشباع لپاره له هري لاري چي ممکنه وي خپله استفاده وکړي حتي چي دخوراوورور،پلاراولور،ښځي اومعشوقي اودهمجنس اوغیرهمجنس ترمنځ هم دجنسي غریزي داشباع لپاره کوم خنډ نشته .
هغه ټولني چي په داسي فاسدو اوغیراخلاقي نظریاتو ملوث دي په هرډول اخلاقي ،قانوني ، روحي اوصحي مشکلاتو اخته دي ،په داسي ټولنو کي دداسي ارزشونو لکه معنویت ، تقوي،پاکي،اوتعادل جنازي اچتي شوي دي اودهغوي په کورني نظام کي دطلاق شمیري،دجنسي تجاوزونو،سقط شمیري په لوړیدودي اوپه رنګارنګ مهلکوامراضو لکه ایډز،سفلیس،ګونوریا اودتناسلي سیستم په سرطانونواخته دي .
غربي تمدن دجنسي غریزي په اړوند په همداسي نظراستواردي په همدي لحاظ په غرب کي له کله نه چي اسلامي خلافت کډه کړي اخلاقي ارزشونه دشهوت په پښو کي قرباني کیږي اوچي هرڅومره هم داټولني له مادي لحاظه دپیشرفت اوترقي په لورګام اچتوي په همهغه اندازه ذکرشوي اخلاقي ارزشونه له لاسه ورکوي اوپه صحي اوروحي ارامتیا پسي لالهانده ګرځي .
یوغرب پیژندونکي عالم وایي:اروپا په دي توانیدلي چي دعلم لوړوپوړیو ته ورسیږي ولي په دي نه ده توانیدلي چي دعلم په واسطه له اخلاقي اوانساني ارزښتونو خپل ځان خړوبه کړي اونورانسانیت هم له ځان سره دي پوړیو ته ورسوي.
په یوه اجمالي کتنه داڅرګندیږي چي پاسني دواړه نظریات اوتعامل(کلیسایي اوبي مهاره)دبشرلپاره ناورین راوړنکي نظریات دي ،یو یي انسان دحیوانیت تربریده رسوي اونه

جبرانیدونکي دیني ،اخلاقي اوانساني نتايج رامنځ ته کوي اوهغه بل يي که فرض کړو داجراءوړوي نو ځمکه دانسانانو له شتون نه خالي کوي .

## ۳:منځني يا اسلامي نظر:

اسلام چي قوانين اواصول يي الهي سرچينه لري اودبشرپالونکي ذات (اللّٰه ج)دخپلوبندګانولپاره چي له مور اوپلارځخه پري مهربانه دي دهغوي دفطرت اوانساني سرشت سره سم ددي غريزي داشباع لپاره داسي لاري په ګوته کړي دي چي ددوي له طبيعت اوفطرت سره همغږي لري اونه يواځي داچي دمعنويت،تقوا ،اخلاقو،اوپاکۍ له ارزشونو سره ټکرنه لري بلکه هغوته نوربنايست اولوړوالي هم وربخښي.
دجنسي غريزي په اړوند اسلامي تعامل اونظرنه دبشريت دمطلقي ازادي په معني دي اونه دبشريت دنسل دورکولوپه معني .اسلام په دي موضوع کي بشر نه دانساني نسل دشمن بولي اونه يي مکمل دشيطان په منګلو کي ورکوي بلکي دنراوښځي دتمايلاتو اوکششونوترمنځ چي پيداکونکي يي هم داحکيم اومنان ج ذات دي له يوي خوا دبشر دنسل لپاره دازدواج لاربښوونه اوملاتړکوي اوله بلي خوادهغه چالپاره چي دازدواج وس اوتوان نه لري په تقوا ،پاکي ،استقامت اوله شيطان سره دمبارزي غوښتنه کوي .
په همدي لحاظ ده چي اسلام ازدواج په ښځه اوسړي ضروري ګرځولي اودايي دجنسي غريزي دپوره کولو بهتره لاره ښودلي ده ترڅو له يوي خوا له دي قوت نه دبشرجوړونکي قوت په حيث کاراخستل شي اوله بلي خوا بشري ټولني دبي لاري ،اواخلاقي ذلت او هلاکت په کندو کي له لويدلونه وژغورل شي .په همداسي يوه ټولنه کي کيدلاي شي چي دتقوا ،اخلاقو اوانساني لوړتيا معيارونه رامنځ ته شي اوانسانان دکمال پړاوونه يو له بل پسي په مسلسله توګه ووهي.
اسلام دغه مامول هغه وخت شوني بولي چي ټولني دشهوت په لحاظ دتعادل په حال کي وي اودجنسي غرايزوله سرکشۍ نه په امان کي وي ،اسلام دجنسي غرايزو سرکشي اوطغيان په بشري ټولنو کي دهغوي دانساني اواخلاقي ارزشونو له مرګ اونابودۍ سره مساوي بولي نو همداوجه ده چي په خپل ټول توان سره کوښښ کوي ترڅو داعتدال لاره خپله کړي اودشهوت له طوفان نه بشري ټولنو ته نجات ورکړي .
داسلام باني چي انسان له هر لحاظه ښه پيژني په دي پوهيږي چي انسان ددي قوت په مقابل کي څومره زيانمن شوي دي اوکوم کارونه دي چي هغه(انسان)داعتدال له لارونه دبي لاري لاروته راکاږي .دجنسي غريزي په واسطه دانسان زيانمن کيدل په دي اندازه دي چي يواځي فکر اوتصورهم دجنسي مسايلوپه اړوند کولاي شي چي دشهواني فشاراوتحريك لامل وګرځي پاتي لا داچي ارتباط اويوځاي والي وي.
نو په دي لحاظ اسلام هغه ټولي لاري چي دانسان اعتدال له ګواښ سره مخامخ کوي تړلي دي اوکه څوك لږ هم له ځان سره سوچ وکړي دي نتيجي ته به ورسيږي چي دښځي اونر ترمنځ داخلاقي بريدونوفلسفه ددي نه بغير بل څه نه دي ترڅوله دي لاري نه داعتدال اوميانه روي ګوهر په ټولنو کي بنياد ګذاري کړي اودشهوت طوفان نه يي وساتي کوم طوفان چي په هغي کي حياء اوعفت قرباني کيږي اوکومي ټولني چي حياء اوعفت له لاسه ورکړي دايمان له لاسه ورکول يي حتمي دي ځکه پيغمبر( ص) فرمايلي دي:

**حياء اوايمان سره تړلي دي که يو يي له مينځه لاړشي بل يي هم له منځه ځي .**

اسلام حتي داهدف دښځي اونر ترمنځ په اجتماعي مسؤليتونو او صلاحيتونو کي هم په نظر کي نيولي دي په داسي ډول چي اقتصادي ټول مصارف يي دسړي په غاړه کړي دي

ترڅو ښځي بيرون ته دوتلوضرورت ونه لري اوله سړو سره په کارکي ګډي نه شي چي داخپله دفساد له اسبابو څخه يوسبب دي.
اسلام په همدي لحاظ ښځو ته لارښوونه کوي چي دژوند لپاره خپل کور انتخاب کړي اوپه هغه کي دخپل اولاد په روزنه ،دکورپه کارونو(چي داهم دسړو له کارونو چي دباندي يي ترسره کوي کمه نه ده)مشغولي اوسي.اوترڅو چي کوم ضرورت اومصلحت په کي نه وي له خپله کوره ونه وځي  اوکه دضرورت پرمهال له کوره وځي نو بيا هغه اخلاقي اوانساني معيارونه مراعات کړي،هغه ګفتار،کرداراواورفتارنه چي دسړوپه زړه کي دشهوت کشش پيداکوي نه وکړي ،په مکمل حجاب ، عادي لباس بي له کومي خوشبويي اوجذابيت نه اوپه يو مناسب رفتار ووځي اوپه حياءاوعفت بيرته راستنه شي همدارنګه دسړولپاره هم لارښوونه کوي چي دسترګو له څر(چشم چراني)يوځاي والي ،بي مهاره اوبي ضرورته ويلو(ګفتګو) نه ډډه وکړي .
اوس دمثال په توګه لاندي قراني اونبوي ارشاداتو اولارښوونو ته توجه وکړئ ترڅو دموضوع پراهميت لاښه پوه شئ اوداښه درك کړئ چي اسلام  بي باکي اودهغي په مقابل کي اخلاقي اداب څنګه دفساد اوبي حيايي موجب بولي اوپه څومره جديت اوټينګوالي دهغي په مقابل کي ولاړدي .

## داسلامي ټولني نراوښځي ته داسلام اخلاقي سپارښتني

١:ښځوته په کورکي داوسيدوسپارښتنه اودوتلوپه صورت کي دښايسته کولو(خودارايي) نه ډده کول:–
الله (ج)فرمايي:(وقرن في بيوتكن ولاتبرجن تبرج الجاهلية الاولي)
ژباړه:په خپلوکورونو کي کينئ اودجاهليت دزماني په څير له تبرج او بي ځايه ګشت اوګذارنه ډده وکړئ.
په پورتني مبارك ايت کي الله (ج)ښځو ته سپارښتنه کوي چي په خپلوکورونو کي کيني له بي ځايه ګرځيدو اوتلوراتلونه ډده وکړي اوکه کله هم دکوم ضرورت په بناله کوره وځي نو دجاهليت په څير له ځان ښايسته کولو نه ډده وکړئ ،خپل ځانونه په کامل عادي حالت کي (بي له کوم سينګاراوډول نه)وساتي اودشهوت اور دنارينه ووپه زړونو کي مه بلوئ.
داسلام ستر پيغمبر سره ددي چي ښځو ته دجماعت دلمانځه اجازه ورکړي مګر داچي دښځي وتل احياناً څه مشکلات رامنځ ته نه کړي هغوي تشويق کړي دي ترڅو خپل لمنځونه په خپل کور کي ترسره کړي .
پيغمبر(ص) فرمايلي دي:تاسي اي نارينه ووښځي مسجد ته له تلو نه مه منع کوي اوکه په همدي موخه له کورنه اوځي بايد خوشبويي استعمال نه کړي اوپه کورکي لمونځ کول ورته غوره دي .
له پورتني مبارك حديث نه له ورايه ښکاري چي کور دښځو لپاره داوسيدو اصلي ځاي دي اوکه احياناً دکوم ضرورت اويامصلحت په خاطر له کوره اوځي دپورتنيو توصيو نه علاوه بايد لاندي توصيي رعايت کړي .

## دحجاب رعايت:

قران مجيد :اوبايد ټيګرئ ( نه يواځي داچي سروپوښي بلکه خپلي غاړي او ګريوان هم وپوښي ترڅوغوږونه ،غاړه اوسينه په کي پټه وي )په سرکړي .

٣:دچادري (هغه لوي ټادرچي له سره ترپښو ټول ځان په کي پټ وي)اغوستل لازمي دي:

۴:دښځي لباس بايدلنډ ،نازك اوتنګ نه وي :-

حدیث شریف:(له دوزخیانو نه داسي ښځي دي چي په ظاهره پوښلي ولي په حقیقت کي لوڅي دي (تنگ ،لنډ اونازك لباس اغوندي )اوپه دي خوشحاله دي چي مونږ پټي یوو ،داپه خپله هم گمراه دي اونورهم گمراه کوي ،سرونه اوویښتان یي چي یو په بل انبارکړي وي( داوښانو دشا دموږي په شان) دجنت بوي به هم حس نه کړي اگر که دجنت بوي له لري حس کیږي .صحیح مسلم.

۵:له سترگوڅرولو(چشم چراني)اودزینت له ښکاره کولو ډډه کول:–

قران مجید:(مؤمنو ښځوته ووایه !خپل نظرونه ښکته ساتي اوخپل عفت وساتي اوخپل زینت دنامحرموپه وړاند ي مه ښکاره کوي)

زینت له ارایش،ښکلي اوښایسته لباس اغوستل اواندامونو ښاره کولو نه مراد دي چي دشهوت راپاروونکي وي .

۶:هره ښځه چي عطروهي اودسړي ترڅنك تیریږي ترڅو بوي یي پري ولگیږي هغه زنا کاره ده :(ترمذی)

ابوهریره (رض) یوي لمونځ کونکي ښځي ته چي دعطروبوي دعطروبوي تري تللو وویل اي کنیزي!له پیغمبر(ص) نه مي اوریدلي دي چي که ښځه عطروهي اومسجد ته راشي لمونځ یي نه قبلیږي ترڅوغسل ونه کړي دجنابت دغسل په شان(خوشبویي کامل له خپل ځان نه لیري نه کړي)

۷:عادي رفتارولري:–

قران مجید:(اوخپلي پښي دتلوپه وخت کي په ځمه مه وهي) ترڅوهغه زینت چي دچادري لاندي دي ښکاره نه شي اوسړي خپل ځان خواته متوجه نه کړي چي دایو ناوړه اوبد کاردي .دنورسورت\ ۳۱

۸:له نامحرموسره دخبروپرمهال له نرمي ژبي (چربزباني) ډډه وکړي.

قران مجید:(که غواړي چي پرهیزگاري اوسي دسړوپه وړاندي خپلي خبري مه نرموي (غوړي خبري مه کوي)

چي دا دمریضو زړونو والاوو په زړه کي طمع پیداکوي)داحزاب سورت\۳۲

۱۰:دهغه بیعت له جملي نه چي رسول اللّٰه (ص) دښځونه اخستي ووداووچي (له نامحرموسړوسره په خبرومه مصروفیږئ ځکه چي دپردي سړي سره خبري کول دشهوت دتحرك سبب کیږي اوانسان دجنایت تر حده رسوي )دابن کثیرپه روایت له ابي حاتم نه

۱۱:له نامحرم سره سفرمه کوئ:

هیڅ ښځه حق نه لري بي له محرم نه سفروکړي(بخاري اومسلم)

یادونه:

پاسني هغه اخلاقي سپارښتني دي چي اسلام دښځو لپاره ښودلي دي .

داسي فکر باید ونه شي چي اسلام ټولي سپارښتني یواځي ښځو ته کړي دي ،داسي نه ده بلکه نارینه وو ته یي هم په دي اړوند ډیري سپارښتني کړي دي چي دنموني په ډول یي د ځنویادونه کوو.

## نارینه ووته داسلام اخلاقي سپارښتني

۱ :دچشم چراني (کتلو)اوحياساتلو توصيه
قران کريم:(مؤمنوسړو(نارينه وو)ته ووايه خپلي سترګي (دنامحرموښځو له ليدلواوعورت کتلوڅخه) ټيټي وساتي اوخپل عفت وساتی)سورة نورايت\۳۱
په يو قدسي حديث شريف کي رسول الله (ص) فرمايي :
(نامحرموښځوته کتل دشيطان له غشو نه يو غشي دي چي دکتونکي په زړه لګيږي اوپه تدريج سره هغه په هلاکت کي اچوي ،هرچاچي زما لپاره نامحرمو ښځو ته کتل ترک کړي (پريښودل) په بدل کي به ورته داسي ايمان نصيب کړم چي دهغي خوږوالي به په خپل زړه کي حس کړي يعني دهغه زړه به دايمان په رڼا ښايسته کړم اودايمان خوږوالي به يي نصيب کړم .طبراني
په يوبل حديث شريف کي رسول الله (ص) فرمايي:
دبدن هريو غړي دزنا مرتکب کيدلاي شي ،دسترګوزنا نامحرموته کتل دي ،دژبي زنا بي حيا اودفحش خبري کول دي ،دغوږونوزنا بدي اودفحشا خبري اوريدل دي ،دلاسونوزنا دنامحرمو ښځو لمس کول دي،دپښوزنا دبدواوفحشاکارونوپسي تلل دي اودزړه زنا دزنا ميل اوارزو کول دي چي دغه شيان کله ناکله په غټه زنا بدليږي .بخاري اومسلم

يادونه:
که پورتني مبارک حديث ته لږ ځيرشو نوداڅرګندوي چي اسلام څنګه دفحشاوواومنکراتو ټولي لاري چي په پورتني مبرک حديث کي ذکر شوي تړلي دي په حقيقت کي پورتنۍ ټولي لاري چي په ظاهره وړوکي معلوميږي ولي اصلً دفحشاواومنکراتو اودغټي زنا هغه دروازي دي چي له همدي لاري شيطان کولاي شي انسان دفحشااومنکراتو په هغه لوي ډنډ ک ي وروغورزوي .يو عرب شاعر څه ښه ويلي دي :

کل الحوادث مبداها من النظر فمعظم النارمن مستصغرالشرر
ژباړه:نامحرموښځوته کتل اوچشم چراني دټولو ګناهونواونامشروعو ارتباطاتوشروع اواغازدي ،هرڅومره که وړوکي معلوميږي ولي په حقيقت ي داوربڅري دي چي وروسته په غټ اوربدليږي .
همدارنګه په پورتني مبارک حديث شريف کي دزړه زناکول (ميل اوارزودرلودل) دپام وړخبره ده ځکه په دي دلالت کوي چي ديوي ټولني ښځه اونر ددي حق هم نه لري چي په زړه کي دفحشاؤ اومنکراتوپه اړوند سوچ قدري هم وکړي يعني ديوي ښځي دصورت اوحسن په اړوند په خپل ذهن اوخيال کي راوستل . دفحشااومنکراتو تمايل ته دزړه په واسطه زنا ويل شوي ده اوداکار هم داسلام مقدس دين په کلکه منع کړي ده ځکه همدا کارچي په ظاهره وړوکي معلوميږي ولي په حقيقت کي دلويو اوکبيره ګناهونو لپاره لارهواروي همدارنګه قران کريم هم ددي په اړوند څرګندوني لري اوالله (ج) فرمايي چي (ولاتقربوالزني )زنا ته ورنژدي قدري هم نه شي که هغه په لاس وي ،په ژبه وي ،په غوږونووي اويا هم په زړه (سوچ اوخيال کولو وي)
۲: له ښځو سره دنه ګډيدو( نه اختلاط) سپارښتنه :
رسول الله (ص) فرمايي:که يوله ستاسونه دهغه په سرکي داوسپني ميخ ووهل شي داورته غوره ده له دي نه چي يو ه ښځه په خپل لاس سره لمس کړي کومه چي ورته حلاله نه وي .طبراني
۳:له نامحرموښځو سره دګډ (يوځاي) اوسيدوحرمت (حراموالي)
پيغمبر(ص)فرمايي :څوک چي دقيامت په ورځ ايمان لري بايد له نامحرموښځو سره يوځاي اوګډ ونه اوسيږي ځکه ددوي په مينځ کي دريم کس شيطان وي چي ديوي داسي زميني په مساعد کيدلو سره انسان دوسوسي په کنده کي اچوي .

## ۴:دښځوپه ځای (ناستي ،ولاړي اوويده کيدوپه ځای)مه ورځئ
رسول اللّٰه (ص)فرمايي:په ښځو دورتلونه ډډه وکړي ،ورته وويل شول که د خاوند له طرفه خپل وي بياڅنګه ؟رسول (ص)وفرمايل هغه هم حق نه لري دخاوند خپلوان خو ښځي ته مرګ اوهلاکت دي يعني دفساد لياري دخاوند دخپلوانو له طرفه ډيري دي او نورپه شك کي اچوي او بدبينو خلکو ته ددي زمينه برابروي ترڅو داتهام اوناحقه ګوت نيوني لار اسانه شي.

## ۵:له اجازي پرته دچا کور ته مه داخليږي :
اللّٰه (ج) فرمايي:(اي مؤمنانو !دنوروکورونو ته مه ننوځي ترڅو چي اجازه تري وغواړي اوپه هغو سلام وکړئ ،دااجازه غوښتل اوسلام اچول تاسو دنوروکورونو ته په خپل سر ننوتلو نه چي داخلاقي مفاسدو اودبدګمانيو دزيږيدو لومړي مرحله ده ساتي اوداستاسو لپاره غوره ده دااخلاقي توصيي ستاسي لپاره بيانيږي ترڅو پند واخلي)
هو:اسلام چي دانسان له دقيقي پيژندني اوهغه ته دضرررسونکو لارونه خبر دي دايي څرګنده کړي ده چي دانسان ي کرامت ،معنويت ،اخلاقو اوارزښتونو دساتلو لپاره بايد همداسي لاري خپلي شي اوله دي نه پرته هيڅ داسي لار نشته چي اخلاقي ارزښتونه اومعنويات پري وساتل شي.
پيغمبر(ص)يوچا ته چي دغله په شان يي ديوکور ليدنه کوله اوبيايي اجازه غوښتله اوپه دي نه پوهيده چي اجازه دڅه په مقصد غوښتل کيږي په قهرشو اوويي فرماييل:داجازي غوښتلوحکم ددي لپاره دي چي دچاسترګي په کومي نامحرمي ښځي پرينوځي حتي چي پيغمبر(ص) په دي اړوند وفرمايل:که هغه سترګه چي دبل کور په طرف ګوري ړنده شي تاوان نه لري.

## ۶:دخپلوماشومانوداخلاقو اورفتارڅارنه کوئ:
قران مجيد دنورسورت په ۵۸ايت کي والدينو ته توصيه کوي اوفرمايي:
هغه ډله اطفال چي تراوسه نه وي بالغ شوي په لاندي دري وختونو کي بي اجازي خپلو کوټو ته مه پريږدي .
۱:دسهار له لمانځه مخکي
۲:دغرمي په وخت کي چي خپلي جامي مو داستراحت په خاطر ويستلي وي
۳:دماسختن له لمانځه وروسته چي دخوب لپاره تياري نيسئ.
په پاسنيو دري وختونو کي دماشومانو داخلاقي زيان په خاطرهغوي منع شوي دي چي بي له اجازي دخپلووالدينو کوټو ته داخل شي اوکه چيري داخليږي نوبايد اجازه وغواړي ترڅو تاسو اماده شي اوتاسو په داسي حال کي ونه ګوري چي داختلاط وخت وي ترڅودهغوي اخلاقو ته زيان ونه رسيږي .

## ۷:ځوانانو ته ددي اجازه مه ورکوئ چي په يوه بستره کي ويده شي:
پيغمبر(ص) فرمايلي دي :خپلواولادونو ته په اووه کلني کي دلمانځه امر کوي اوکه په لس کلني کي يي لمونځ نه کولو نو تاديبي جزاورکړي اوپه ياد ولري چي دخوب ځاي يي يو له بله بيل کړي څکه په يو ځاي ويده کيدويي کيداي شي شيطان منحرف کړي .
هو:دايوازي ديوي نموني په ډول داسلام اخلاقي ښوونې دي ترڅو ديوي ټولني اخلاقي معيارونو ته زيان ونه رسيږي .
تاسو داحقيقت هغه وخت ښه درك کولاي شي چي دننۍ نړي(غربي تمدن) هغه بي مهاره اخلاقي فساد وګورئ چي بشريت دشهوت په مهلکو کندو کي اچوي اوداخلاقي ارزښتونو دحفظ لپاره هيڅ برنامه نه لري بلکي ددي ارزښتونو ريښي اوباسي .

که تاسو دغه غربي ټولني ښې مطالعه کړي نو وبه ګوري چي څنګه يي بشريت دشهوت په ياغي طوفان کي راايسارکړي دي اوڅنګه يي له معنويت اواخلاقو نه بې برخې کړي دي اودحيوانيت اوفحشاپه لوريي روان کړي دي دازدواج ښکلي بڼ يي د girlfriends او boyfriend په حيوان صفته اعمالو بدل کړي دي ،دطلاق اوجنين سقط (لويدنه)طوفان په کي په ډيرسرعت دبشريت نقشه بدله کړي ده اوبشريت يي دعياشي ،مد پرستي اواخلاقي جرمونو په سرنوشت اخته کړي دي ددنيا ټول دلسوز دانشمندان دي وحشي چارواکو ته حيران دي خو څه يي دلاسه نه کيږي آوکه هرڅومره هم ددي ناورين په اړه انديښنه ښيي خوبيا هم څه اثر نلري.

هو:همدا کار دملينونو انسانانو دتباهي(ايډز) باعث دي چي دتحقيقاتوپربنسټ تراوسه پنځه ويشت مليونه انسانان ددي وحشي وينه زبيښونکو چارواکو دهمدردي له امله دمرګ کومي ته ورغلي دي اوپنځه ښپيته مليونه نوريي دمرګ په انتظار کي دي .

که داناورين دريمي نړۍ ته شيوع پيداکړي چي زموږ ګران هيواد هم يو له هغوي نه دي کيدلاي شي يوه غټه انساني فاجعه منځ ته راوړي لکه څنګه چي يو له افريقايي هيوادونوچي له ډيري مودي يي دحجاب اواخلاقي ادابوکوروران دي په دي سرنوشت اخته دي اويو له دري ښاريانو يي په دي مهلك مرض اخته دي

محققينو ويلي دي چي دغه مرض(ايډز) ٨٠% له اخلاقي بي بندوباري اوفحشاء نه منځ ته راځي.

په خواشينۍ سره بايد ووايو چي په دي وروستيو وختونو کي دي انسان دښمنه ټولنو يوشمير وګړي چي په دي مهلك مرض اخته دي زموږ ګران هيواد ته هم راډالۍ کړي دي اوپه بعضي ولاياتو کي پيژندل شوي دي ترڅو اسلامي ټولني هم ددي هلاکت خوند وڅکي اودديموکراسۍ دغه پيغام ددوي غوږ ته هم ورسيږي چي بدبختانه دغه وياړ زموږدي اوسني حکومت (ديموکراسي پلوه ) چارواکو وګاټه .

# اختلاط منع کړۍ اودښځو ازادي بنده کړۍ

دالجمهوريه ورځپاڼي په ٩جولاي ١٩٦٢م کي چي په قاهره کي چاپيږي يوه مقاله له يوي امريکايي ښځي نه چي (هيلسيان ستانسباري ) نوميږي اويو ه مياشت يي په قاهره کي تيره کړي ده داسي ليکي:

عربي ټولنه واقعاً يوه سالمه اوکامله ټولنه ده اوددي ټولني له طبيعت نه يو دهغو عنعناتو ساتنه ده چي هلك اونجلۍ په معقولو حدودوکي ساتي اوداټولنه له اروپايي اوامريکايي ټولنونه داتوپيرلري چي په خپلو عنعنوي تقليدونو ښځي او سړي مقيدوي اوموراوپلار ته احترام حتمي بولي مهمه لاداچي نجوني اوښځي له اخلاقي بي باکيو نه چي په غرب کي رايج دي اوداټولني يي له غټ ګواښ سره مخامخ کړي دي ساتي اوکوم قواعد چي عربي ټولنو وضع کړي دي ډير ګټوراومصلحت اميز دي .زه داتوصيه کوم چي په خپلو عاداتو اواخلاقو ټينګ شۍ او دښځو اونارينه ووترمنځ اختلاط اوګډوالي مه پريږدۍ دنجونو ازادي منع کړي اوحجاب مراعات کړۍ داتاسو ته ډيره بهتره ده له دي نه چي دغربي اوامريکايي ټولنو په سرنوشت اخته شۍ .

اختلاط منع کړي موږ له دي نه ډير رنج وړواوډير تري خسته يو،نن ورځ امريکايي ټولنه چي په هغي کي بي باکي اوبي بندوباري خپل اوج ته رسيدلي ده اوډير انسانان يي دهمدي بي بندوبارۍ اواخلاقي ارزښتونو دنشتوالي له امله دهلاکت کندوته اچولي دي حيرانه ده دايو داسي طوفان دي چي يوځل شروع شي بيا په هيڅ ډول نه ايساريږي .

موږ چي خپلوځوانانو ته کومه ازادي ورکړي ده دډيرو باندونو اوغيراخلاقي ګروپونو چي زيادتره يي ځوانان دي باعث شوي ده لکه د(جيمس ديين) اونوروباندونوپه شان .

دښځواوسړو يوځاي والي په امريکايي ټولنو کي ډيري کورنۍ تهديدوي اودهغوي اخلاقي ارزښتونه يي پايمال کړي دي دمثال په ډول:
په نوي جامعه کي يوه شل کلنه نجلۍ له يوه ځوان سره جنسي ناروااړيکي لري له هغه سره يوځاي شراب څښي ورسره نڅيږي اوخاند ي او دتمدن دازادي په نوم مخدره مواد استعمالوي ، نجلۍ دخپلي کورنۍ په مخ کي له هرچاسره چي وغواړي خاند ي اونڅيږي اوحتي چي دفاميلونو په وړاند ي يو له بل سره رقابت کوي ،په يو ساعت کي واده کوي اوپه بل ساعت کي طلاق اخلي اوداکار له يوي اضاء اوګوتي لګولو نه نورزيات مصرف نه لري.